د فیلیمون په نوم د پولوس رسول خط

پیژندګلو

په اِنجیل شریف کښې د فیلیمون خط د ټولو نه ورکوټے خط دے. په دې خط کښې پولوس رسول ټولو مسیحی ایماندارانو ته په خپلو کښې د وروروڼ تعلیم ورکوی، او د خفګان نه وروستو د پخلا کېدو تعلیم ورکوی. اونیسیموس د فیلیمون نوکر وو. او فیلیمون د کولوسیانو په جماعت کښې یو ایماندار وو. اونیسیموس د فیلیمون نه غلا وکړه او وتښتېدلو نو په هغه زمانه کښې د داسې کار سزا مرګ وه. د هغۀ د تښتېدلو په دوران کښې اونیسیموس د پولوس رسول په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ذریعې سره په حضرت عیسیٰ مسیح ایمان راوړو او ایماندار شو. نو بیا پولوس رسول فیلیمون ته یو خط ولیکلو چې هغه دې خبرې ته تیار کړی چې اونیسیموس ته سزا ور نۀ کړی او هم داسې بې‌سزا یې پرېږدی او په حضرت عیسیٰ مسیح کښې ورته د ورور په سترګه وګوری. د حفظ کولو دپاره ۱:۶ آیت "ستا دپاره زما دا دُعا ده چې کوم شراکت چې د ایمان په وسیله په تا کښې پیدا شوے دے هغه دې نور هم اثرناک شی او تۀ دې د ټولو هغه برکتونو چې په مسیح کښې دی په پوره توګه محسوس کړې."

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دُعا او سلام

۱ زهٔ پولوس دا خط چې د عیسیٰ مسیح دپاره قیدی یم او
زمونږ د ورور تیموتیوس د طرف نه خپل ګران د خدمت ملګری
فیلیمون ۲ او ورسره خپلې خور افیه او ورور ارخیپوس ته چې زمونږ
پرجوش کارکن دے او ستاسو د کور جماعت ته لیکم. ۳ زمونږ د
خُدائ پلار او د مالِک عیسیٰ مسیح د طرف نه دې په تاسو فضل
او سلامتی وی. ۴ زهٔ چې کله تاسو په خپلو دُعاګانو کښې یادوم
نو د خپل خُدائ پاک شُکر کوم، ۵ ځکه چې زهٔ ستاسو د ټولو
مقدسینو سره د مینې او په مالِک عیسیٰ مسیح د ایمان نه خبر یم.
۶ ستا دپاره زما دا دُعا ده چې کوم شراکت چې د ایمان په وسیله
په تا کښې پیدا شوے دے هغه دې نور هم اثرناک شی او تهٔ دې د
ټولو هغه برکتونو چې په مسیح کښې دی په پوره توګه محسوس
کړې. ۷ اے زما وروره، ما ته ستا په مینه ډېره خوشحالی او تسلی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مِلاو شوې ده ځکه چې ستا په سبب د مقدسینو زړونه تازه شوی دی.

پولوس رسول د اونیسیموس دپاره سفارش کوی

۸ اګر کۀ زۀ په مسیح کښې دومره زړَور یم چې تا ته د خپل
کار کولو حُکم درکړم، ۹ خو زۀ تا ته د مینې په بنیاد مِنت کوم او
زۀ پولوس دا د یو بوډا سړی په طور او هم د عیسیٰ مسیح د یو قیدی
په حیثیت کوم. ۱۰ زۀ تا ته د خپل زوئ اونیسیموس دپاره مِنت
کوم، د چا چې زۀ د قید په دوران کښې روحانی پلار جوړ شوم. ۱۱
اول خو هغه ستا دپاره بې‌کاره وو، خو اوس هغه ستا او زما دواړو د
کار دے. ۱۲ زۀ هغه تا ته واپس درلېږم هغه څوک چې زما د زړۀ سر
دے. ۱۳ ما غوښتل چې هغه ځان سره پاتې کړم، چې د زیری دپاره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د قید کېدلو په دوران کښې ستا په ځای هغه زما خِدمت وکړی. ۱۴
خو ما ستا د مرضیِ نه بغیر داسې یو کار کول ونۀ غوښتل، ځکه
چې ستا نېک کار ستا په مرضیِ دے او د زبردستیِ په وجه نۀ دے.
۱۵ شاید چې هم دا وجه وه چې هغه ستا نه د لږ وخت دپاره جدا
شو، د دې دپاره چې هغه به بیا د تل دپاره تا سره وی. ۱۶ خو نور
هغه د غلام په شان نه بلکې د غلام نه زیات دے، ځکه چې هغه
ما ته یو ګران ورور دے. نو اوس به هغه تا ته د یو انسان او په
مالِک کښې د ورور په شان وی. ۱۷ نو کۀ تۀ ما خپل شریک ګڼې
نو دے داسې قبول کړه لکه څنګه چې تۀ ما قبلوې، ۱۸ او کۀ هغۀ
چرې تا ته څۀ نقصان درکړے وی او یا پرې ستا څۀ قرض وی نو
هغه ما پسې ولیکه. ۱۹ زۀ پولوس درته په خپل لاس دا لیکم چې زۀ
به یې په خپله درته واپس کړم، او دې وئیلو ته ضرورت نشته چې زما
په تا کوم قرض دے نو هغه هم تۀ په خپله یې. ۲۰ اے وروره، زۀ په
مالِک کښې تاسو نه د خیر طمع کوم. هغه دا چې په مسیح کښې
زما زړۀ تازه کړه. ۲۱ زما ستا په فرمانبرداریِ باور دے، زۀ درته دا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لیکم او په دې پوهېږم چې تۀ به زما دا خواست پوره کړې، بلکې زما
د وینا نه به زیات څۀ وکړې. ۲۲ او بله دا چې زما دپاره یوه کوټه
تیاره کړه، ځکه چې زما اُمید دے چې ستاسو د دُعاګانو په وسیله
به زۀ بیا تاسو له درشم.

آخری سلامونه

۲۳ اِپفراس چې د عیسیٰ مسیح په وجه ما سره قیدی دے تا ته
سلامونه وائی، ۲۴ او هم دغه شان مرقوس، اریسترخوس، دیماس او
لوقا هم چې په دې خدمت کښې زما ملګری دی. ۲۵ د مالِک
عیسیٰ مسیح فضل دې تاسو ټولو سره مل وی.